DAILY
اراده
داځغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپاڼه

سال پنجم شماره ۲۴۲
شماره مسلسل ۸۶۸
یکشنبه ۱ عقرب ۱۳۸۴ هش
۲ رمضان المبارک ۱۴۲۶ هـ ق
23 October 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

ولس مشر په هیوادوالو غږ وکړ چې د تاکنو پایلې ومنې

په تاکنو کې د درغلیو د تورونو سربیره کرزي دغې تکې ته په اشاري چې په افغانستان کې د باقایده اداري سیستم د نشتوالی سره سره چې نړۍ یې لري وویل چې تاکنې سمې وې کرزي دا ومنله چې په تاکنو کې خلاف ورزۍ شویدي خو وي ویل یوالی په ګټه ده چې په مخکې ولاړ شو. د ناسمو رایو په شک کې له شپږ سوه پنځوسو زیات د رای اچونې صندوقونه د جدول بندۍ له پروسې څخه ویستل شوی دي.

مردم ولسوالی پغمان دست به تظاهرات زدند

صدها تن ازمردم ولسوالی پغمان ولایت کابل درچهارراهی زنبق شهر نو جوار دفتر یوناما صبح روز ۳۰ میزان طی راه اندازی تظاهرات خواستار شمارش مجدد آرای انتخابات پارلمانی آن ولسوالی گردیدند. انتخابات پارلمانی (ولسی جرگه و شوراهای ولایتی) بتاریخ ۲۷ سنبله در کشور راه اندازی گردید. این تظاهر کننده گان به طرفداری ۱۸ کاندید ولسی جرگه وشورای ولایتی آن ولسوالی که از نتایج شمارش آراء ناراض اند، دست به تظاهرات زده اند. ص۴

افغانستان دوهزار تخته کمپل به پاکستان فرستاد

دولت افغانستان ۲ هزار تخته کمپل را بتاریخ ۳۰ میزان جهت مساعدت با آسیب دیده گان زلزله پاکستان از طریق طیاره ان ۳۲ به آن کشور ارسال نمود ص۴

څه ښاسه دوه سوه کسان بې وسلې شول

په پروان ولایت کې دوسلو تولولو دپروګرام مرستیال تولولو دپروګرام کار جنرال عبدالرحمن سید کړنکې یې چې دوی په خیلی وویل له دغو کسانو تیرو څو ورځو کې څه دپاسه څخه زیات یې په رباط نومې ۲۰۰ کسان وسله والو سیمه کې بې وسلې شوی کسانو څخه وسلې ټولې دی او دغه لړۍ به نوره هم و کړي. په پروان کې دوسلو غزیږي. ۴مخ

دنیشه توکو دمخنیوی په خاطر دسرحدي پوستو جوړول

دنیشه یي توکو پر ضد دمبارزې وزارت وایي په پام کې لري چې دافغانستان په ځینو سرحدي پولو باندې به دنشه یي توکو د قاچاق دمخنیوي په موخه یو شمیر پوستې جوړې کړي. ۴مخ

دو تبعه پاکستانی در هلمند کشته شده اند

دو تن از اتباع پاکستانی شب گذشته از طرف افراد مسلح ناشناس در شهر لشکرگاه ولایت هلمند کشته شده اند. مل پاسوال عبدالرحمان صابر، قوماندان امنیه هلمند به تاریخ ۳۰ میزان به آژانس خبری پژواک گفت که افراد نامبرده باشنده گان ایالت پنجاب پاکستان بودند که جهت مزدوری به هلمند آمده بودند ص۴

یک تن با پول جعلی دستگیر شد

یک جعلکار حین خرید جنس از بازار مرکز ولایت فراه با ۲۷ هزار افغانی پول جعلی توسط دکانداران به تاریخ ۲۹ میزان دستگیر و به مسؤولین امنیتی تسلیم داده شد. فدا محمد ۳۰ ساله یکتن از دکانداران شهر فراه که فرد جعلکار را شناسایی نموده بود، به خبرنگار پژواک گفت. ص۴

اکادمی پولیس خواهان جذب دختران ولایات است

پروسه جذب دختران فارغ صنف ۱۲ به اکادمی پولیس کابل، از یک هفته بدین سو در شهر مزارشریف آغاز گردیده است یک هیئت بلند پایه اکادمی پولیس از مرکز به شهر مزارشریف سفر نموده است تا دختران واجد شرایط را به اکادمی پولیس جذب نمایند. جنرال شیر آقا نورانی رئیس عمومی اکادمی پولیس، به آژانس خبری پژواک گفت که در نظر دارند تا در حدود ۹۰ تن از طبقه اناث را در سراسر کشور به اکادمی پولیس جذب نمایند به نقل از وی، این اولین هیئتی است که جهت جلب وجذب دختران به اکادمی پولیس به سمت شمال سفر نموده است. وی افزود که در شهر مزار شریف، خلاف توقعی که داشتند عدهٔ از اناث حاضر به شمولیت در اکادمی پولیس شده اند، اما موصوف از ارائه رقم دقیق دختران ثبت نام شده در شهر مزار به اکادمی پولیس خود داری نمود.

یک قوماندان امنیتی همراه با هشت پولیس کشته شد

قوماندان تولی موسسات ولایت هلمند با هشت تن از افراد پولیس طی یک حمله طالبان در ولسوالی باغران کشته شده است. یوسف ستانکزی، سخنگوی وزارت امور داخله به تاریخ ۳۰ میزان به آژانس خبری پژواک گفت که دو روز قبل دو تن از طالبان در ولسوالی باغران دستگیر شده بودند، آنها حین تحقیقات محلات افراد دیگر طالبان را به نیروهای امنیتی افشاء نمودند.

وی افزود که نیروهای پولیس ولسوالی های باغران و موسی قلعه مشترکاً جهت دستگیری طالبان افشا شده در منطقه هزار خاک دست به عملیات زدند که در جریان زد و خورد، حاجی صفاجان قوماندان تولی موسسات با هشت پولیس ملی کشته شد.

به گفته وی، در این درگیری چهار جنگجوی طالب نیز کشته شده و قوماندان آنها ملا شهزاده بحالت مجروح با همدستان دیگر از منطقه فرار نمودند.

وی افزود که ۳۰۰ پولیس دیگر جهت تقویت نیروهای امنیتی به منطقه اعزام گردیده و منطقه را تحت محاصره قرار داده اند.

از جانب دیگر مقامات ولایت هلمند نیز واقعه را تائید نموده اند اما حاجی محی الدین، رئیس اداری ولایت هلمند به تاریخ ۳۰ میزان به آژانس خبری پژواک گفت که قوماندان موصوف بطرف خانه خود روان بود که در مسیر شاهراه لشکرگاه باغران مورد حمله قرار گفت. وی طالبان را مسؤول این حمله دانست و گفت که آنها میخواهند بی امنی و هرج و مرج را در کشور ایجاد نمایند.

نامبرده افزود که تحقیقات پیرامون واقعه آغاز گردیده اما تا کنون کسی را به این اتهام دستگیر نکرده اند. ص۴

سرمقاله

ولی په تاکنو کې زده کړې او مسلک نه پاملرنه نه کیږي

له جګړو اوناخوالو څخه بوه راوتلې ټولنه هغه وخت دپرمختیایي پړاو په لوري خپل حرکت تیزولی او ځان قانونیت ته برابرولی شي چې تر هرڅه لومړی دهغې ټولنې مسوول چارواکي دملي احساس په درلودلو سره دقانونیت په رامنځته کولو کې رغنده اوګټور ګامونه واخستلای شي او په ټولنه کې هر چا ته د مسلک تجربې او پوهې اولوړو زده کړو په پام کې نیولو سره دمسوولیت چارې وسپارې خو دریغه چې زموږ په هیواد کې دموقتي اداري له پیل څخه ان تر اوسه پورې په بیلابیلو وزارتونو ریاستونو او خپلواکو تصدیو کې د ژبنیو، سمتي، قومي، تنظیمي او دغه راز دخپلوی دارېکو او ارتباطاتو دپاللو په اساس د تاکنو په وخت کې دزده کړې مسلک او تجربې خواته پاملرنه تر سیورې لاندې راغلی ده او همدا وجه ده چې تر اوسه پورې موږ دکارونو دښه پرمختیا په لاره کې خنډونه وینو.

په دندو باندې ډیر کم اشخاص لرو چې تصادفا په خپل مسلک کې په کار کولو بوخت وی خو داسې اشخاص دنورو غیر مسلکی کسانو تر مشرۍ لاندې راغلی او په سمه توګه خپل کارونه پرمخ وړلی نشي د اداري اصلاحاتو کمیسیون څخه دهیواد هیله داوه او ده چې په یوه اداره کې دمسوولینو او کارکوونکو دسوانحو په لیدلو سره په داسې دنده باندې اشخاص وګمارل شي چې هماغه بې مسلک وي او په هماغه څانګه کې بې زده کړه کړې وي همدا اوس چې موږ په هیواد کې دقانونیت درامنځته کولو لپاره غږ پورته کوو نه یوازې دا چې دموقتي اداري له پیل څخه دغیر مسلکي اشخاصو په تقرر او ټاکلو کې ژوره پاملرنه نه ده شوې بلکې اوس هم دهیواد دمرکز او ولایاتو په ټولو ادارو کې دغیر مسلکی اشخاصو توظیف لیدلای شو غیر مسلکی اشخاص نه یوازې دا چې خپل ورسپارل شوی کارونه دسم پلان له مخې سرته رسولی نشي بلکې دهغه له لاس لاندې پرسونل هم دهغه دبې تجربه ګي څخه په استفاده دراز راز اداری فسادونو او ستونزو د رامنځته کولو لپاره په خپله ګټه لاره برابروی.

که چیرې ددولت لوړپوړي چارواکي غواړي چې په ریښتینی توګه دخدمت جوګه شي باید د ټولو وزارتونو په لوړو او کښتو څوکیو کې د زده کړې او مسلک له مخې دټاکنو او ټاکل شوو کارکوونکو په برخه کې ځیرنه دهغو د سوانحو له مخې سرته ورسوي او ټاکل شوی اشخاص که په هر پست کې وی له دندو ګوښه اوپه خپل مسلک کې دکار لپاره وګمارل شي په هغه صورت کې کولای شو چې دهیواد دجوړولو په لاره کې کارنده او ګړندی ګامونه له مثبتو نتیجو سره واخلو.

نهادهای مدنی ونهاد اقتدار ((دولت))

فرید (فرهنگفر) محصل پوهنځی حقوق و علوم سیاسي پوهنتون کابل

در ادوار تاریخ در جهان کشمکش ها تنش ها و زدو بندهای زیادی وجود داشته و همیش دولت مداران و زمامداران خود کار در صدد غصب قدرت به شکل غابرانه بر امده اند ومنافع عامه را فدای مصلحت های خویش نموده اند و مردم به عنوان رعیت، خواستها و کار کرد های دولت را بدون اینکه قابل پذیرش برایشان باشد بدون کدام عکس العمل پذیرفته اند، در واقع خواستهای دولتهای خود کامه جبراً بالای مردم تطبیق میگردید. هیچ کس حق شکایت این را نداشت که در مقابل دولت قرار گیرد و خواستار حق شود، که این روند اهسته اهسته به اوج خود میرسد ومردم بیشتر از پیش از نهادهای اقتدار متنفر میگردند. در اینجاست که مردم احساس میکنند که باید به عنوان یک نیروی گسترده اجتماعی در مقابل دولت قرار گیرند و خواستار حق خود شوند که مثال خوب ان انقلاب کبیر فرانسه ۱۷۸۹ می تواند باشد که این انقلاب باعث فروپاشی رژیم دکتاتوری ان وقت میگردد و بعداً با روی کار امدن دولتدیگر تغیرات فاحش در دستگاه دولت میاید و بعداً چنین پنداشته میشد ملت است که دولت را بوجود میاورد بناً باید دولت مطابق به خواستها وعملکرد های مردم حرکت نماید و در اینجا ست که مقوله جامعه مدنی و مقاومت مدنی به نحوی مطرح میشود که بعداً این مقوله جهانشمول گردیده و در کشور های مختلف شکل میگیرد و در صدد کنترول قدرت دولت بر میایند.

امروز در جهان اقشار مختلف مردم با باور و اعتقاد کامل که به نهادهای مدنی دارند از انها حمایت و پیشتیبانی مینمایند و حتی امروز در اکثریت جوامع پیشرفته امکانات مالی برای نهاد های جامعه توسط مردم فراهم میگردد البته از طریق حق العضویت های که در ان جوامع معمول است و اینکه چرا اعانه و نهاد های مدنی می خواهند ازدولت یا نهاد اقتدار و یا سایر نهاد های که وابسته به دولت هستند درخواست کمک مالی نمیکنند از ان جهت است که نمیخواهند استقلالیت انها زیر سوال رود و یا انیکه زیر بار دولت قرار گیرند.

امروز در کشورهای جهان سومی که روندموکراسی حاکم نهاد مدنی به شکل پراگنده وجود دارد که اکثریت این نهادها نقش سمبولیک داشته و یاهم اگر نقش سمبولیک نداشته باشد از آن چهار چوبه مشخص شده قانونی در بعضی مواقع عدول میکنند و یا هم اینکه به خطا میروند. افغانستان هم که در جمعی این کشورها محسوب میگردد بعد از گذشت دوره های بحران، قانون شکنی دولت مداری، استبداد بالاخره به یک مرحله نوین تاریخی رسیده است و در واقع یک روزنه‌فراوان به روی مردم افغانستان گشوده شده که در ادوار تاریخ افغانستان بی سابقه است. امروز در افغانستان باآنکه بعضی مشکلات و پرابلم های اینجا و انجا وجود دارد با انهم حکومت از ان مردم است معیار های دموکراسی مطابق به چهار چوب تعین شده قانونی ومطابق به عرف وعادات پسندیده مردم افغانستان در نظر گرفته میشود و از همه مهمتر اینکه رئیس جمهور توسط مردم انتخاب میگردد و در راس نهاد اقتدار قرار میگیرد که از این دست اورد های روند سال اخیر نباید چشم پوشید.

حال موضوع مورد بحث این است که امروز در افغانستان بعضی مقوله ها به شکل درست ان تفهیم نشده ا ست.

مثلاً جامعه مدنی و نهاد های مربوط به ان قسمیکه متذکر شدیم به عنوان نیروی گسترده اجتماعی ونیروی مقاومت مدنی در جوامع مختلف وجود دارد برنامه های نهاد های جامعه مدنی بصورت مشخص برای دولت پیشنهاد، توصیه،اعلامیه، تدویر میزهای گرد در بعضی موارد سازماندهی تظاهرات می تواند باشد به شرط اینکه خارج از چهار چوب قانون دولت نباشد. در ان شکی نیست که جامعه مدنی در افغانستان یک پدیده نو پا است و فعالیت های نهاد های جامعه مدنی در اثر کم تجربه گی آنها به صورت پراگنده پیش میرود که این پراگنده گی و از هم گسستگی باعث ایجاد مشکلات و پرابلم های زیادی میگردد.

امروز در افغانستان نهاد های وجود دارند که بیشتر حرف از جامعه مدنی و مدنیت می زنند ولی متاسفانه نه تنها اینکه فعالیت هایشان به کندی پیش میرود بلکه اثر گذار هم نمی تواند باشد. عده از این نهاد ها همیش دولت را مورد انتقاد قرار میدهند ومنتظر این هستند که دولت باید زمینه فعالیت های انها را فراهم سازد در حالیکه چنین نمی تواند باشد درست است که دولت مکلف به ساختن چهارچوب قانونی برای فعالیت نهاد های جامعه مدنی است ولی طوری هم نمی شود که دولت نهاد های جامعه مدنی را پا به پای خود به حرکت در اورد و برایشان راهکار های را مشخص سازد در این صورت به صراحت می توان گفت که مشروعیت این نوع نهادها نه تنها زیر سوال خواهد رفت بلکه استقلالیت خودرا از دست داده و زیر بار دولت قرار خواهند گرفت پس وقتیکه نهادهای جامعه مدنی استقلالیت از خود نداشته باشند نمی توان همچو نهاد ها را نهاد مدنی گفت بلکه جز نهاد اقتدار محسوب خواهند شد پس وقتیکه از نهاد های جامعه مدنی به عنوان پل ارتباط میان ملت و دولت از یکطرف و به عنوان نیرو اصلاح گر و کنترول کننده قدرت دولت از طرف دیگر صرف به میان میاید نباید از این نهاد ها سوی استفاده شود و گروه اندک برای بر اوردن خواستهای مشخص خود را زیر چتر جامعه مدنی قرار دهند. بلکه باید به عنوان بلند گوی مردم و نیرو اپوزیسیون در جهت مثبت در مقابل دولت قرار گیرند و خواستها و نیاز های مردم را بگوش دولت برسانند و دولت را در پیش برد امور مشاورت نمایند. و این در حالی می تواند صورت بگیرد که نهاد های جامعه مدنی از حالت پراگنده گی خارج شده و خود را به یک نیروی گسترده اجتماعی تبدیل نمایند.

د مخدره موادو په کښت کې د مور او میری سلوک

نابلد

د مخدره موادو کښت او قاچاق د نړۍ تر نورو هیوادونو زموږ په هیواد کې د زیاتو کرلو له املې د نړیوالو پاملرنې پدی وروستیو وختو کې ځانته واړوله ځکه چې ۸۷ % نیشه توکی زمونږ په هیواد کې تولیدیدل د نشه یې توکو په کښت او قاچاق کې له یوی خوا د سیمه ییزو قاچاق برانو لاسونه راګډ شول او ټوله ګټه یې له بزګرانو څخه تر لاسه کوله خو په هماغه اندازه سره زموږ هیواد وال په همدغو نشه توکو عادت شول چې په نشه باندی له اخته کسانو ۹۰ % په هیروئینو ۱۰ % په تریاکو او چرسو باندی اخته شول.

زموږ بزګران تر زیاتی اندازی پوری له دولت څخه خفه دی چې په هغوی باندی یې تیر کال د کوکنارو په کښت او قاچاق باندی د یوه فرمان پواسطه بندیز ولګوو خو لدی بی خبره چې سیمه ییز قاچاق برانو د نړیوالی قاچاق شبکی په خدمت کې دی له بزګرانو څخه په ارزانه بیه د اپینو د فصل په وخت کې اپین د یو ډله ییز تصمیم له مخی تر لاسه کوی او بیا یی د بیلو ارتباطاتو او اړیکو او لارو چارو څخه په استفاده له هیواد څخه بهر لیږدوی.

تیر کال د ولسمشر د فرمان له مخی په ټول هیواد کې د کوکنارو کرل منع شول د هیواد په ځینو ولایاتو کې فرمان ته په درناوی سره وکتل شول او په ځای یی نور کښتونه وکرل شول خو له بده مرغه چې په ځینو ولایاتو کې لکه مزار، کندهار هلمند او ځینو سیمو کې فرمان ته په بی پروایی سره کوکنار وکرل شول ځکه چې سږ کال د مخدره موادو سره د مبارزی د کمیسیون مشر یاسینی ویلی و چې د ۲۰۰۳ کال په پرتله په ۲۰۰۴ کال کې د کوکنارو په کرکې ۶۴ % زیاتوالی او د افینو په تولید ۱۷ % زیاتوالی څرګندوي.

د روان کال د کوکنارو په کښت کې د مشرقی ولایاتو ځوانان ځانته د کار او مزودری د پیدا کولو لپاره هغو ولایاتو ته ولاړل چې هلته د دولتی چارواکو سره په تفاهم کې کوکنار کرل شوی وو هلته یی مزودری کوله سږ کال چې بیا په تودو سیمو کې د کوکنارو د کرلو وخت رارسیدلی دی او اړوند والیان له همدی پیل څخه د کوکنارو په منع کولو د ښاغلی ولسمشر فرمان خلکو ته مخکی کوی او وایی چې سږ کال څوک کوکنار نشی کرلی. که چیری د تیر کال په څیر بیا هم له بزګرانو سره د مور او میر سلوک وشی په خوارو او بی وزلو ولایاتو کې یی کرل او سوداګری بنده وی او د تیر کال په څیر په ځینو کې بیا وکرل شی دغه سلوک به دهیواد په ځینو ولایاتو کې د سراسری حالاتو په خرابوالی کې منفی نتیجی را منځته کړی. د اپینو په قاچاق کې دوه ډوله اشخاص پوره لاس لري یو هغه سیمه ییز سوداګر چې همدغه کاروبار یی خپله همیشنی پیشه ګرځولی ده او له همدغی لاری رزق پیدا کوی او په هر رژیم کې له ځینو واکمنو سره په تماس کې دی او د برخو په ورکولو خپل کارونه په وړاندی وی د طالبانو په وخت کې یې له طالبی چارواکو سره د برخو په ورکولو سره خپل ارتباطات ټینګ کړی وو ان چې د پودرو په هره کارخانه کې یې په یو کیلو پودرو برابرولو باندی ولسوال ته زر کلداری ورکولی او د پودرو په هر کارخانه کې به د ولسوال له خوا ټاکل شوی طالب ناست و او د طالبانو سیمه ییزو چارواکو له قاچاق برو سره په سوداګری برخه درلوده خو چې اوس کوکنار بند شوی دی د همدغه سیمه ییزو سوداګرو له خوا چې کاروبار یی بند شوی دی د دولت په ضد د طالبانو په طرفداری تبلیغات کیږي او غواړی چې بیرته ګډوډی رامنځته او خپلی ګټی اوچتی کړی.

دویم ډله په خپله هغه اشخاص دی چې د دولت غیږ کې په غیر مستقیمه توګه د اپینو او پودرو په قاچاق کې لاس لری د مور او میری په سلوک سره غواړی چې په حالاتو او امنیت کې ستونزی رامنځته کړی چې د دوی سوداګری کاروبار خپل رونق له لاسه ورنه کړی دغه دواړی ډلی پدی اند دی چې باید په هر ډول شرایطو کې د کښت لپاره زمینه برابره کړی او په بیلابیلو پلمو د کوکنارو د کښت په اړولو کې ناغیړی کوی که چیری سږ کال بیا دولت په ټول هیواد کې د کوکنار کرمنع نه کړی ویلای شو چې د دولت پر خلاف به زهرجن تبلیغات اوج پیدا کړی او خلکو ته به پلمه رامنځته شی په سیمو کې د خلکو د اوازو او ګنګوسی له املې داسی ویل کیږي چې لومړی به هغه سیمی چې کوکنار یی اړول شوی بیا به کوکنار کری او که چیری یې اړوند والیان مخنیوی وکړی نوبیا به په هغه صورت کې د نورو سیمو کوکنارو ته ګوری که چیری بیا د مور او میری سلوک ورسره وشو نو په هغی صورت کې به دوی هم له امن او امنیت د بی امنیتی د راوستلو او چریکی بریدونو لوری ته مخه وکړی د لاړو بندولو او بی امنیتی لپاره اقدام به وکړی چې دا کار به زمور د دولت په وړاندی زیاتی ستونزی رامنځته کړی او په لوی لاس به مو د دښمن لوری پیاوړی کړی اوسي.

رانلونکی د ځوانانو ده

متصدی: ناصر بشر

ځوانان باید د ښځې د تبلیغاتو ښکار نشي

دموکراسي یوه یونۍ کلمه او د ملي حکومت او واکمنۍ په مانا راځي پداسې ټولنو کې حکومت د خلکو د استازو له خوا تاکل کیږي د خلکو استازي قوانین تصویبوي او په ټولنه باندې یې تطبیقوي. د نړۍ په اکثره هیوادونو کې دموکراسي رامنځته شوې او د دموکراسي په فضا کې د ژوندانه د جوړولو په لوړې روان دی دغه راز د نړۍ یو هیواد د بل هیواد د ژوندانه سوکالیو، نیکمرغیو او پرمختګ ته ګوري او د خپل قانون په تطبیق سره وړاندې حرکت کوي. موږ هم چې له اوږدو جګړو ځخه راوتلی یو او اوس د جګړو ټولو خواوو وسلې غورځو کې او په یوه لاس یې د اب دې لیږه تکل کړی تر وجود توانایي لري.

خوداسې هیوادوال او ځوانان پدې نه پوهیږي چې پردي په اګاهانه ډول غواړي چې بیا افغانستان په افغانانو باندې د خپلو ګټو د لاسته راوړلو په خاطر وران کړي او زموږ هیواد تر وړاندې د دولت منفي نقطه رادمخه کوي او دوی هم پرې فکر نه کوي.

دا سمه ده چې زموږ د دولت په دننه کې بی نظمي او ګډوډي شته انتقادونه شوي او کیږي چې ډیر کارونه سرته نه دي رسیدلي خپلې ولکې لاندې وساتي. دښمن غواړي په کلیو او باندو کې د تبلیغ له لارې د ځوانانو احساسات د هغه دولت او حکومت پر خلاف راوپاروي چې د دموکراسي د اصولو په رڼا کې پخپله د خلکو په اراده سره رامنځته شوی دی. دښمن تل زموږ د ځوانانو او هیوادوالو په خو باید ووایو چې د ځلورو کلونو په اوږدو کې د خلکو په ګټه مو زیاتی بریاوی رامنځته کړي دي بیا رغاونې شوي دي امن او امنیت تر ډیره حده د پرون په پرتله رامنځته شوی دی چې چیرې مونږ په هیواد کې پرونې او ننې حالات او شرایط سره پرتله کړو پخپله به یې ځوانان ته ښه والی او بدوالی را بر سیره شي.

موږ له جګړو ځخه راوتلي یو ډیره به له ستونزو ځخه ډکه وي چې په یو ځل هیواد د بری درښل ته ورسوو او په سملاسی توګه په ټول هیواد کې امن راشي او یا خو زموږ هیواد له انتقادونو ځخه خلاص شي.

دا هر څه به وي او ورو به یې د اصلاح خواته په حرکت کې اوسو او تر هر څه زیات په ځوانانو ده چې د وطن د جوړولو لپاره د علم په ګانه ځانونه سنبال او په هیواد کې د قانونیت په رامنځته کولو خپله هڅه چاری وساتی او د دښمن د ذهرجنو تبلیغاتو په جال کې رانښکیل نشي.

اوس هم ځینې افغانان د پردیو په هڅونه د هیواد په ورانۍ او د هیوادوالو په ورته کې فعالانه کار کوي او غواړي چې د جبهه وي جګړو او چریکي بریدونو ساحه پراخه کړي پدې مخالفینو کې زیاتره ځوانان او هغه هیوادوال لیدل کیږي چې تر اوسه پورې د

د زده کړونکو په هکله د دوو ښوونکو ویناوې

د هیواد په مرکزي ښوونځیو کې نه بلکې په سر تاسري هیواد کې د ښوونځیو حالت د نظم او دسپلین له پلوه خرابه شوی دی او همدغه ګډود حالت ددې سبب شوی دی چې په کیفي سطحه باندې ناوړه اغیزه وکړي او په نتیجه کې هغه اهداف چې د زده کوونکو د روزنې او ښوونې په برخه کې یې دولت کورنۍ لري په ښه توګه سرته نه رسیږي.

دلته هغه متل د سړي ذهن ته رسیږي چې څه ژرنده پخه او څه غنم خراب. ځینې کسان په ښوونکو باندې انتقاد کوي چې باید ښوونکي د ښوونځي له اداري سره د نظم او دسپلین په رامنځته کولو کې مرستندویه اوسي او لدې پرته یوه اداره نشي کولای په یوازې توګه نظم واکمن کړي او ښوونکي بالمقابل ددغې ستونزې شته والی د معارف د اوسنی لایحی په برخه کې د نوی نظر نشتوالی ښئي.

د تالقانو یو پخوانی ښوونکي استاد محمد یاسین چې اوس یې د موجوده ستونزو له امله د ښوونکي دنده خوشی کړی ده وایي:

زه دا منم چې د هیواد په اکثره ښوونځیو کې په لږ و زیات تناسب سره بی نظمی موجود ده او دا هم منم چې باید ښوونکي له اداري سره همکار اوسي خو مشکل دادی چې اوسنی اداری او مسوولین د اوسنی لایحی په تطبیق سره نشي کولای نظم رامنځته کړي خکه چې تر پخوا حالاتو او شرایطو بدلون موندلی دی باید د ښوونکو مجلس ته زیات صلاحیت ورکړل شي له اړوند ښوونځي څخه باید بی بندو باره شاګرد ته سه پارچه ورکړل شي او د ښوونې او روزنې ریاست ته وروپیژندل شي یو ښوونکي هغه وخت درس ورکولی شي چې د ضف فضا ارامه وي دا چې ځینې کسان زده کوونکي د صنف خرابوي علت یې دادې چې داسې زده کوونکي نه پوهیږي د بیلا بیلو لاملونه له امله تر اوسنی ټولګي پورې رسیدلی وي او یا شامل شوی دی ددرس دیادولو توان نه لري ان چې په املا نه پوهیږي له لایحي څخه نه ویریږي صنف اخلالون غیر حاضري کوي کورنۍ هم د خپلو اولادونو پوښتنه نه کوي دغه حالت د ښوونکو زړه تور کړي او هم د زده کوونکو.

که چیرې شاګرد پدې پوه شي چې دغه درسونه په راتلونکي کې زما په درد خوري او په صنف کې په اخلال سره له ښوونځي څخه سه پارچه کیږم دغیر حاضري په صورت محرومیږم او جعلی تصدیق نه راکول کیږي هیڅکله له قوانینو څخه سرغړونه نه کوي. ما د همدغو پورتنیو ستونزو د شته والی له امله د ښوونکي پاکه دنده چې په مینه مې اخیستې وه پریښوده او په ازاده دنده باندې بوخت شوم.

عبدالوحید اغا استاد لیسه نادریه در باره نظم و دسپلین در مکاتب چنین ابراز نظر مینماید.

به صورت عموم در مکاتب نظم و دسپلین چندانی خوب نمی باشد باید گفته شود که همکاري اولیای شاګردان رکن عمده بوده و باید به طور دوامدار اولاد های خویش را تحت نظارت و کنترول داشته باشد یک پدر باید هر روز وظایف خانگی شاګردان و کار شان کنترول نمایند.

در رابطه شاګرد و استاد پدر وظیفه دارد تا مقام استاد را برای اولاد هایشان به صورت دقیق توضیح بدهد تا شاګرد به اساس هدایت و مشوره پدر برخورد سالم را با استاد هم صنفیان و مقررات مکتب مراعات نمایند.

دوم اینکه استاد باید اګاه و روانشناس باشد در اولین دید خود با شاګرد وضع گذشته شان را در اجتماع از زوایای مختلف کلتوري سیاسی و اجتماعی درک نمایند وبعداً با شاګردان تماس و رابطه درس را برقرار نمایند.

څنګه د ایدز له وژونکي ویروس څخه ځان وساتلی شو؟

د ایدز خطرناکه او وژونکي ناروغي چې نن سبا د نړۍ په اکثره هیوادونو کې لیدل شوي او په میلیونو میلیونو انسانان پرې اخته شوي دي زیاتره ناروغان یې ځوانان دي.

ددغې ناروغۍ ویروس چې د HIV په نامه یادیږي د بدن D4 حجری چې د T حجرو په نامه یادیږي له فعالیت څخه غورځوی وجود کمزوری کوي او بدن د هر ډول ناروغۍ په مقابل کې توانایي له لاسه ورکوي. دغه ناروغۍ کومه پوله او سرحد نه لري ځوانان ځکه پدې ناروغۍ تر نورو زیات اخته کیږي چې دوی زیات د نفسی خواهشاتو تر اغیز لاندې راځي او له غیر قانوني لارو څخه دوی جنسي نیږدیوالی راخپلوي.

دغه خطرناك او وژونکی ویروس له یوه انسان څخه بل انسان ته په اسانی سره د جنسي نږدیوالی او یا پیچکاري له لارې او یا خو له میندو څخه خپلو ماشومانو ته لیږدیږي.

دغه وژونکي ناروغي د لومړۍ ځل په ۱۹۸۱ کال کې په امریکا کې وپیژندل شوه خو داسې نه شو ویلای چې له پورتني نیټې څخه وروسته منځته راغلی بلکې دغه ناروغي تر هغې د مخه هم موجود وه خو چانه پیژنده خو په ۱۹۸۴ کال کې پوهانو جوته کړه چې د ایدز ناروغي د HIV په وسیله رامنځته کیږي.

زموږ په هیواد کې هم ددغې خطرناکی ناروغي نښې نښانی لیدل شوي دي ددې ویره موجوده ده چې په ډیر سرعت سره به خپره شي ځکه چې زموږ په هیواد کې له یوې خوا زموږ ځوانان له تعلیم او پوهی څخه لیري پاتی دي له بلی خوا زموږ ځوانان وزګار دي د کار او روزګار د پیدا کولو لپاره له هیواد څخه بهر ځي اوهلته د پیسو په ګټلو سره د هغو سیمو په دننه کې د زنا لپاره له پراخه امکاناتو څخه استفاده کوي او دغه وژونکي ناروغي له ځان سره راوړي دلته دغه ناروغي یا د جنسي نږدیوالی یا د پیچکاري له لارې یا د وینې د ورکولو له لارې نورو ته لیږدوي دغه ناروغي چې نه یوازې د انسان د وژلو سبب ګرزي بلکې د انسان د شخصیت په راکمولو کې هم منفي رول لري د لاندې لارو څخه دغه ناروغي لیږدیږي:

۱. دغه ناروغي له جنسي نږدیوالی څخه چې یو لوري HIV ولري.

۲. په HIV د ککړو شونو سورنجونو اود نایانو د ککړو سامان الاتو څخه.

۳. ماشومان له خپلو هغو میندو څخه چې HIV ولري پدې مرض اخته کیږي ناروغي نه یوازې په نورو هیوادونو کې ده بلکې زموږ په هیواد کې هم ویروس د له منځه وړلو لپاره واکسین او نور درمل کشف او رامنځته شوي نه دي او له خپل پرمختګ سره سره وروسته پاتی شوی دی.

خو اوس ډیر پوهان پدې عقیده شوي دي چې یوازې اسلامي پوهه او په اسلامي اوامرو باندې کلکه عقیده کولای شي ددغه ناروغي په کمولو او له منځه وړلو کې مرسته کړي نو پداسې ډول نظرونو کې تر هر څه لومړی زموږ هیوادوالو ته لازمه ده چې په دغه بدعمل اخته نشي د خپلې عقیدی له مخې او د خپل صحت په خاطر له دغې ناروغي څخه ځان وساتي ځکه چې زنا په ټولنه کې له ناروغي پرته راز راز فسادونه رامنځته کوي نو که چیرې پدې لارښوونو عمل وشي ویلای شو چې خپل خلك به مو له داسې وژونکو ناروغیو څخه ساتلي وي.

مشرف:
وعده کمک به زلزله زدگان 'ناکافی است'

رییس جمهوری پاکستان کمک های خارجی برای کمک به زلزله زدگان این کشور را کاملا ناکافی دانسته و سازمان ملل متحد در نظر دارد از سازمان پیمان اتلانتیک شمالی - ناتو - درخواست کند امکانات بیشتری را برای کمک به زلزله زدگان جنوب آسیا اختصاص دهد.

پرویز مشرف، رییس جمهوری پاکستان، در سخنانی در روز جمعه، ۲۱ اکتبر، میزان کمک های وعده داده شده خارجی برای زلزله زدگان اخیر این کشور را کاملا ناکافی دانسته و خواستار آن شده است تا میزان این کمک ها به شکلی قابل توجه افزایش یابد.

جنرال مشرف در مصاحبه ای با بی بی سی گفته است که تا کنون کشورهای مختلف متعهد شده اند که کمک هایی بالغ بر ۲۲۰ میلیون دلار را در اختیار پاکستان قرار دهند.

در مقابل، وی گفته است که برای بازسازی مناطق ویران شده در زلزله اخیر در پاکستان دست کم به حدود ۵ میلیارد دلار نیاز است.

از جمله، برای تامین نیاز حدود سه میلیون نفری که در اثر زلزله بی خانمان شده یا مسکن آنان آسیب جدی دیده و قابل بازسازی نیست، لازم است بیش از نیم میلیون خانه ساخته شود.

آقای مشرف همچنین اظهار داشته است که وقوع زلزله اخیر می تواند فرصتی را برای تلاش در راه رفع اختلاف هند و پاکستان و استقرار صلح پایدار در منطقه فراهم آورد.

مرکز این زلزله در نزدیکی شهر مظفرآباد، مرکز کشمیر تحت کنترل پاکستان قرار داشت و بیشترین خسارت نیز به این ناحیه وارد آمد اما کشمیر تحت کنترل هند نیز متحمل خسارات و تلفاتی شد.

رییس جمهوری پاکستان مجددا از هند خواسته است تا با فراهم آوردن تسهیلاتی برای رفت و آمد ساکنان دو بخش کشمیر به دو سوی مرز موافقت کند و افزود که زمان برای تلاش در جهت حل نهایی بحران کشمیر فرا رسیده است.

مقامات هندی نگران آن هستند که اجازه آزادی رفت و آمد مرزی در کشمیر باعث شود تا پیکارجویان مسلمان کشمیری که خواستار جدایی سرزمین خود از هند هستند از این فرصت برای نفوذ به داخل بخش هندی این سرزمین و دست زدن به اقدامات خشونت آمیز بهره برداری کنند.

هند و پاکستان از زمان کسب استقلال بر سر مالکیت کشمیر اختلاف داشته اند که گاه باعث بروز برخوردهای نظامی و در سه مورد به جنگ تمام عیار بین دو کشور منجر شده است.

همزمان، یان اگلند، سرپرست برنامه کمک های اضطراری سازمان ملل متحد، روز جمعه، ۲۱ اکتبر، عازم بروکسل، پایتخت بلژیک و مقر سازمان ناتو می شود تا از کشورهای عضو این سازمان درخواست کند تعداد کافی هلی کوپتر و هواپیما برای حمل اقلام مورد نیاز آسیب دیدگان اختصاص دهند تا ابعاد فاجعه انسانی در این منطقه گسترش بیشتری نیابد.

وی گفته است که لازم است ناتو به اجرای عملیاتی مشابه "انتقال هوایی برلین" مبادرت ورزد که اشاره به تامین هوایی مواد مورد نیاز ساکنان و نیروهای خارجی مستقر در بخش تحت کنترل کشورهای غربی در پایتخت آلمان طی سال های ۱۹۴۸ و ۱۹۴۹ است. پس از آنکه در ماه مه سال ۱۹۴۸، اتحاد شوروی در اعتراض به اقدام کشورهای غربی در به جریان انداختن پول جدید آلمان ارتباط زمینی بخش های تحت کنترل غرب را با سایر نقاط آلمان قطع کرد، کشورهای غربی با انجام هزاران پرواز در طی بیش از سیصد روز، توانستند احتیاجات بخش محاصره شده را مرتفع سازند.

درخواست اقای اگلند پس از آن مطرح می شود که سازمان ملل متحد اعتراف کرد در کمک به آسیب دیدگان زلزله جنوب آسیا با دشوارترین عملیات امدادرسانی در تاریخ خود مواجه شده است.

پراکندگی جغرافیایی نقاط زلزله زده و از میان رفتن راه های ارتباطی مستلزم استفاده از هلی کوپتر و هواپیما برای ارسال کمک به هزاران تن از آسیب دیدگان بوده است.

روز پنجشنبه، ۲۰ اکتبر، ناتو حمل هوایی حدود نهصد تن اقلام کمکی را آغاز کرد اما آقای اگلند گفته است که انتقال زلزله زدگان باقی مانده در نقاط دور افتاده نیز ضرورت دارد.

زمین لرزه جنوب آسیا به کشته شدن حدود پنجاه هزار نفر در کشمیر تحت کنترل پاکستان و سایر نقاط اینک کشور و دست کم یکهزار و

چهارصد نفر دیگر در کشمیر تحت کنترل هند منجر شده است و تخمین زده می شود که حدود سه میلیون نفر دیگر نیز خانه های خود را از دست داده اند و در حالیکه هوای منطقه به تدریج به سردی گراییده است، نیازمند سرپناه هستند.

آقای اگلند گفته است که هرگاه هزاران تن از افراد بی سرپناه و زخمی های زلزله به سرعت به مناطق امن انتقال نیابند، آمار کشته شدگان زلزله بازهم افزایش خواهد یافت. همچنین، گروه های امدادی پزشکی از فقدان امکانات لازم برای رسیدگی به وضعیت هزاران تن از آسیب دیدگان جدی زلزله خبر داده اند.

به گفته این گروه ها، این نگرانی وجود دارد که در صورتیکه برخی از آسیب دیدگان به سرعت به مراکز درمانی منتقل نشوند، با خطر مرگ یا دست کم لزوم قطع دست و پای خود مواجه شوند.

د ښځه نوکو د مخنیوی...

د نومورې وزارت وزیر حبیب الله قادری وویل چې دوی دغو پوستو څخه یو شمیر د مخه جوړې کړې دی او د پاتو نورو پوستو د جوړولو لړې به دوام ولري د افغانستان د تریاکو زیات پیداوار د ایران، تاجکستان او پاکستان له لارې نړیوالو بازارونو ته مخه کوي دغه راز قادری زیاته کړه چې دوی به دافغانستان جنوب ته یو پلاوی واستوی تر څو د بزګرانو اړتیاوی وڅیړي قادری هیله څرګنده کړه چې ددغو نویو لارو چارو په برابرلو سره به نومورې وزارت پدی وتوانیږي چې په افغانستان کې د نشه یی توکو کښت، تولید او قاچاق راکم کړي.

مردم ولسوالی پغمان...

آنها شعارهایی را با خود حمل می کردند که درآن نوشته بود: «ما خواهان شمارش مجدد آرا بصورت شفاف وعادلانه می باشیم و قرنطین نمودن ۹۰ فیصد صندوق های رای دهی پغمان یک فیصله ظالمانه است.»

محمد رفیع باشندۀ ولسوالی پغمان و یک تن از مظاهره کنندگان به آژانس خبری پژواک گفت که باید صندوق های که قرنطین شده شمارش گردند در غیر آن به تظاهرات ادامه خواهند داد. داکتر نور آغا روئین کاندید ولسی جرگه از ولسوالی پغمان که در بین مظاهره کنندگان با آواز بلند در لودسپیکر صحبت می کرد، دفتر مشترک تنظیم انتخابات را متهم به تقلب نموده وپروسه انتخابات پارلمانی کشور را غیر عادلانه خواند.

څه د پاسه دوه سوه ...

د وسلو تولولو دغه لړې څه وخت د مخه پیل شوی ده D.D.R کې د دفاع وزارت پوری اړوند قطعات بی وسلی کیدل خو پدی لړې کې تولی خوږی وری خپل سری وسله والی دلی بی وسلی کیږی او دیک ورته وایی.

افغانستان دو هزار...

جنرال ظاهر عظیمی سخنگوی وزارت دفاع ملی، درمورد گفت که بعد از برگشت هئیت این وزارت از منطقه زلزله زده و بررسی اوضاع، مشخص شد که ضرورت های فعلی مصدومین زلزله وسایل گرم کننده می باشد

یک تن با پول...

« شخص جعلکار به دوکانم آمد و قصد داشت که با پول جعلی از دوکانم جنس بخرد که من با مشاهده پولها متوجه جعلی بودن آن شدم و به مسؤولین امنیتی موضوع را در میان گذاشتم و او را به پولیس تسلیم نمود یم »

اعلان

لیسه آریانا افغان – ترک برای سال تعلیمی ۱۳۸۵ خویش شاگردان شامل صنف هفتم سال جاری مکاتب دیگر را بعد از امتحان کانکور به صنف هشتم خویش می پذیرد.

ثبت نام بتاریخ ۱۹ میزان الی ۱۸ عقرب سال جاری همه روزه از ساعت ۸:۰۰ صبح الی ساعت ۴:۰۰ عصر در لیسه آریانا افغان – ترک جوار روضه شاه دوشمشیره (ع) صورت می گیرد. هنگام ثبت نام تذکره و دو قطعه عکس با خود داشته باشند.))

یکی از وکلای مدافع محکمه صدام کشته شد

جسد یک وکیل مدافع که کار دفاع از یکی از همدستان صدام حسین، رهبر سابق عراق، را برعهده داشت، در بغداد پیدا شده است.

جسد این وکیل یک روز پس از ربوده شدنش پیدا شده است. گفته می شود که سعدون الجنابی، یکی از ۱۳ وکیل مدافع در دادگاه صدام حسین بود. دادگاه صدام روز چهارشنبه (۱۹ اکتبر) برگزار شد.

چهار نفر از پنج قاضی دادگاه صدام و بسیاری از وکلای مدافع بدلایل امنیتی از افشا شدن هویتشان خود داری کرده اند. اتحادیه وکلای عراق در بیانیه ای گفته است که کشته شدن این وکیل عراقی "پیامدهای نامطلوبی" خواهد داشت.

یکی از مقامات اتحادیه وکلای عراق گفته است: "این اقدام باعث خواهد شد که وکلا در دفاع از زندانیانی که به اتهامات سیاسی بازداشت شده اند، با مشکل مواجه شوند."

جسد وکیل کشته شده عراقی خارج از مسجد "فردوس" در بغداد پیدا شده است.

آقای الجنابی کار وکالت عواد حمد بندر السعدون را بر عهده داشت. آقای السعدون در رژیم سابق عراق ریاست دادگاه انقلاب عراق را عهده دار بود.

دو تبعه پاکستانی...

وی افزود که تعداد زیادی از اتباع پاکستانی برای مزدوری به هلمند آمده که مصروف کار در امور ساختمانی تعمیرات و مارکیت ها می باشند. موصوف افزود که تحقیقات را آغاز نموده اند اما تا کنون کسی را به این اتهام دستگیر نکرده اند. در این اواخر نا امنی در ولایت هلمند افزایش یافته، به تاریخ ۱۸ میزان آمر امنیت این ولایت با ۱۸ تن از افراد پولیس و به تاریخ ۲۹ میزان یک قوماندان امنیتی با هشت پولیس ملی از طرف افراد مسلح ناشناس کشته شده اند.

یک قوماندان امنیتی...

از جانب دیگر طالبان مسؤولیت این حادثه را به دوش گرفته اندواظهار نموده اند که طی این درگیری به شمول قوماندان صفا، نه تن از افراد دولتی را به هلاکت رسانیده اند.

قاری یوسف احمدی سخنگوی نظامی طالبان طی تماس تلفونی از یک محل نامعلوم به آژانس خبری پژواک گفت که طی این درگیری هیچ گزنه آسیبی به نیروهای آنها نرسیده وآنها ده میل اسلحه نیز بدست اورده اند. این درحالیست که به تاریخ ۱۸ میزان آمر امنیت این ولایت با ۱۸ تن از افراد پولیس در ولسوالی دیشو کشته شده بودند

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیر نظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

اراده
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳۰ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com